مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۷/۲۱

# د ځمکې پر سر قتلونه

زموږ په سیمه (خوست ولایت) کې، که له چا وپوښتي چې دغه ځمکه د چا ده؛ نو هېڅوك به ونه وايي چې زما ده، دوی وايي: ((دا مځکه اول يې خدای دو بيا يې مو دو)) ياني دا ځمکه اول د خدای ده، بيا د ما ده. دوی پر دې باور دي، چې ځمکه خدای ورته ورکړې ده، موږ ټول له دې دنيا څخه ځو؛ خو ځمکې پاتې کېږي، د ځمکې حقيقي مالك خدای دی. خو د ځمکې پر سر قتلونه په خوست کې تر بل هر ځای زيات تر سره کېږي.

شاوخوا پينځه لس کاله مخکې ډاکتر محمد عاصم چې پخوا په څلورسوه بستريز روغتون کې د داخله متخصص و، د يوې ګاډۍ (کراچي) خاورې پر سر له خپلو وربرونو سره په جنګ کې ووژل شو. ډاکتر عاصم د خوست په تڼيو کې اوسيده. هغه د خپلې ځمکې له يوه ځايه بل ځای ته په کراچۍ کې خاورې وړلې. وربرونه يې په ورغلل، نا حقه دعوا يې وکړه چې دا ځمکه زموږ ده، ته حق نه لرې چې خاوره يې يوسې. خبره لانجې ته ورسېده، وراره يې کلاشينکوف راواړاوه، ډاکتر يې وويشت. هغه په زخمي حالت کې ځان تر کوره ورساوه، خپل ټوپك يې راواخيست، دواړه وربرونه يې وويشتل. يو وراره يې تپي شو، بل يې ځای پر ځای سا ورکړه. ډاكتر هم تر روغتونه ونه رسېد، په لاره کې يې سا وخته. هغه چې وظيفه يې له مرګه د انسانانو ژغورنه وه، مجبور شو چې انسان ووژني.

دې ته ورته پېښې په ټولو پښتني سيمو کې په خاصه توګه په خوست کې کمې نه دي. زما د پلار تره به تل خپلو زامنو ته ويل: ((دعوې وکړئ، که ګټه يې نه وه، تاوان يې هم نشته)) د دې خبره په ظاهره کې ريښتيا ده. د خلکو پر حق دعوا وکړه، که دې وګټله نو پردی ځمکه دې خپله کړه او که دې وبايلله نو تاوان به دې نه وي کړی، ځکه چې هسې هم ستا حق په کې نه و. د ده درې زامن وو. زامنو يې خبره ومنله، ډېرې دعوې يې وکړې، له خلکو سره يې بدۍ شوې، څو کسان يې ووژل؛ خو د دوی دوه تنه هم په ځوانه ځوانۍ کې ووژل شول. د دغه سړي يو لمسی هم دښمنانو ورووژاوه. اوس هغه بوډا دی او له خپلو لمسيو او يوه زوی سره اوسېږي. دوی د خپلو دښمنانو له ډاره له کوره نه شي وتلای. دغو ټولو مرګونو او بدمرغيو د بوډا فکر نه دی بدل کړی، هغه اوس هم خپلو لمسيانو ته هماغه نصيحت کوي، چې په دعوا کې تاوان نشته.

موږ د خپلو بدمرغيو پره د پرديو پر غاړه اچوو؛ خو حقيقت دا دی چې نورو دومره نه يو وژلي، څومره چې په خپلو کې مو سره وژلي دي، هغه هم اکثراً د هغې ځمکې پر سر چې خپله يې نه ګنو، بلکې د خدای مال يې بولو.

قبيلوي کلچر زموږ خلك مجبوروي چې د ظلم او تيري د مخنيوي لپاره پخپله له خپل مال او خپل ځانه دفاع وکړي. چېرته چې سم حکومت نه وي چې د خلکو حق خوندي کړي؛ نو وګړي د خپل حق د ساتلو لپاره د بل له وژنې څخه ډډه نه کوي. د خوست خلك پر دې خوشاله وو، چې د ظاهرشاه په پاچاهي کې له عسکری څخه معاف وو او د ټوپك د ګرځولو ازادي يې لرله؛ خو دغې ازادۍ د ډېرو خلکو ژوند ورتباه کړی دی.

د نا حقه مرګونو مسوليت که له يوې خوا زموږ د خپلو بې عاطفي ورونو پر غاړه دی، له بلې خوا هغه حکومتونه چې خپل واك يې د هېواد په ټولو سيمو کې نه دی غځولی او عادل قضايي سيستم يې نه دی رامنځته کړی، هم په دې مسوليت کې شريك دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ